
الرساله

اکتوبر، ۲۰۲۶

مولانا وحیدالدین خان



“په هر مسلمان د بل مسلمان ابرو، د هغه مال او د هغه وینه حرامه ده.”



اکتوبر، ۲۰۲۶

مولانا وحیدالدین خان

(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کریم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې رااخیستل شوې ده.)

بسم الله

الرحمن الرحيم

یو تضاد

یو مسلمان تاجر شپه او ورځ په تجارت کې مصروف وي. په خوا کې ځینې لنډمهالي او رسمي دیني اعمال هم ترسره کوي او په دې فکر وي چې د دنیا په خوا کې یې جنت هم په خپل نوم کړ. یوه عالم نوموړي تاجر ته د قرآن او حدیث ځینې بیان مسایل کړل، او ورته ویې ویل چې د اخرت معامله دومره اسانه نه ده، څومره چې تا ګڼلې ده. تاجر یې په خبره کې ور ولوېد: هې بابا، ولې دومره ژور په کې ځې؟ هغه ورته وویل: که ستا د مالیې قضیه محکمه کې بنده شي، نو ته ډېر زیات ژور په کې ځې. خو د اخرت د قضیې په باره کې فکر کوې چې بس په سرسري کارونو به بریالی شې. ګواکې د اخرت معامله د مالیې د ستونزې هومره هم سنجیده نه ده.

★

د اسلام تګلاره

په قرآن کریم کې راغلي دي: وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً. (نساء: ۱۰۰)

ژباړه: او چا چې د الله په لار کې هجرت وکړ نو په ځمکه کې به ډېر اوسېدن ځایونه او پراخي ومومي ـــ معنا دا چې د جګړې په ځای کې قتل و قتال د اسلام طریقه نه ده. د اسلام طریقه دا ده چې کله د جګړې حالت رامنځته شي، نو د عمل ځای بدل کړئ. یو شخص چې د انساني خیرخواهي او په الله د اعتماد له جذبې سره دغه ډول اقدام کوي نو دی ګوري چې د خدای مځکه ډېره پراخه ده. «د هجرت په ځای» کې د ده لپاره تر هغه ستر فرصتونه ده ته په انتظار دي چې ده په خپل وطن کې لرل یا یې لرلی شوی.

★

د آزمایش قانون

په قرآن کریم کې ویل شوي دي چې د الله په نزد هغه وخت یو څوک صادق الایمان (عنکبوت ۳) او د جنت مستحق (بقره ۲۱۴) حسابېږي چې له فتنو (ازمایش) نه روغ وتلای وي. له دې نه ښکاري چې په اخرت کې د خلاصون دار و مدار مازې د ټاکلو فرایضو په ترسره کولو نه دی، بلکې دا پرېکړه په هغه خاصه

شپېه کې د انسان د رویې له مخې کېږي چې خپل رب دی لـه ازمایښـته تېـروي. یـو شـخص ټـاکلي اعمـال (لمونځ، روژه، حـج او داسـې نـور) خـو پـه ډېـر اهتمـام سرته رسوي، خو کله یې چې د مزاج خلاف حالت راشي یا په غیرمعمـولي حـالاتو کـې د خـدای د بنـدګي ثبـوت ورکـول پـېښ شـي نـو دی د مؤمنـانو پـه تګـلاره ونـه ودرېـږي. ځـوک چـې داسـې وکـړي، نـو ګـواکې دی پـه هماغه شېبه کې ناکام شو چې پکـار وه تـر ټولـو ډېـر د کامیابي ثبوت په کې ورکړي. د بایبل په ټکو کې، سړي ټوله شپه د خپل «محبـوب» پـه انتظار کـې پـه ویښـه تېره کړه او سهار په هماغه شېبه کې ویده شـو چـې د محبوب سورلۍ یې له خوا نه تېرېده.

★

د مؤمن او نامؤمن فرق

مؤمن هغه دی چې خپله تېروتنه جبران کړي. چې لـه غوسې وروسته ښښنه وکړي. چې د عزت سوال یـې لـه اعتراف کولو نه راونه ګرځوي. د دې بالعکس هغه چـې حال یې دا وي چې په خپلو تېروتنو کلـک ولاړ وي. چـې

یو ځل یې چاسره خفګان راشي، نو ښسلو ته یې هېڅ تیار نه وي. هغه چې په هېڅ حال کې په خپلو تېروتنو او عیبونو اعتراف ونه کړي. دا د اللّه په نزد مؤمن نه دی، پروا نه کوي چې په دنیا کې یې د ایمان او اسلام څومره نښانې په ځان باندې لګولې وي ـــــــــ او نن ورځ چې دا خبره هر څومره پټه وي، د اخرت په ورځ به داسې افشا شي چې ړانده به یې هم وګوري او کاڼه به هم ورباندې پوه شي. په اوسنۍ دنیا کې چې بنده نه غواړي په خپلې تېروتنې اعتراف وکړي، نو د خپلې تېروتني د پټولو لپاره خورا ښکلي الفاظ پیدا کوي. څوک چې دنیوي روښق او مقبولیت حاصل کړي، نو دغه روښق او مقبولیت د ده لپاره پرده وګرځي چې خپله هره نا اهلي په کې پټه کړي. خو په اخرت کې به دغه راز هېڅ شی هم د چا په درد ونه خوري.

★

کاینات شاهدي ورکوي

په سوره انعام (۴مه رکوع) کې د منکرینو دا تقاضا راغلې ده چې رسول الله ته وایي چې که ته پخپله دعوه کې رښتونی یې، چې هغه پیغام چې تا راوړی دی، هغه د الله له لوري دی، نو کومه معجزه راښکاره کړه. ویې فرمایل، د ایمان مدار په معجزوي پېښو نه دی، بلکې په دې باندې دی چې د بنده سترګې وازې وي او له نښانو څخه یې سبق اخیستل زده وي. هغه چې دا صلاحیت په کې ژوندی وي، هغه به وګوري چې دلته هغه «معجزه» له مخکې څخه په لویه کچه غوړېدلې ده چې دی یې غوښتنه کوي. اخر له دې نه لویه معجزه بله څه کېدی شي چې ټول کاینات له خپلو ټولو اجزاوو سره د هغه پیغام د رښتینولې پخلی کوي چې د خدای رسول ورته بلنه کوي. او که انسان خپل ځان ړوند کړی وي او له پېښو نه د درس اخیستو کوشش نه کوي، نو بیا ډېرې لویې معجزې هم هغه ته ګټه نه شي نه رسولی.

په دې برخه کې د هغو نورو مخلوقاتو (د مرغانو او ژویو) مثال ورکول شوی دی چې په دې دنیا کې له انسان پرته موجود دي. په بل ځای کې مځکه او اسمان هم په دې مثال کې شامل کړای شوي دي (بنې اسرائیل ۴۴) فرمایلي یې دي چې که تاسې غور وکړئ نو ستاسې لپاره په دې کې د عبرت او نصیحت کافي خبرې پرتې دي. ځکه دا ټول هم ستاسې په څېر مخلوقات دي. دوی به هم په خپل ژوند کې یو طرز غوره کوي لکه له تاسې نه یې چې غوښتنه کېږي. خو ستاسې په پرتله، د

هغوی معامله له تاسې نه بالکل مختلفه ده، سره له دې چې هغوی د دې کاینات ډېره لویه برخه تشکیلوي. هغوی له میلیونونو کلونو نه په یوه ټاکلې نقشه روان دي او له خپلې ټاکلې نقشې نه ذره انحراف هم نه کوي. دا یوازې انسان دی چې ټاکلې نقشې ته غاړه نه ږدي. هر انسان غواړي چې د خپلې خوښې په لارو دې وځغلي.

د رسول غوښتنه له تاسې نه څه ده؟ همدا خو ده چې د دې دنیا یو خالق او مالک دی. ستاسې لپاره سمه رویه دا ده چې خپلسري او ځانبیني پرېږدئ او خپل خالق او مالک ته تابع شئ. که غور وکړئ نو د دې دعوت په ربښتینولي ټوله مځکه او اسمانونه او ټول حیوانات شاهدي ورکوي (نور ۴۱) ځکه تاسې په یوه داسې دنیا کې یاستئ چې وسیعترې برخې یې د خپلسري په ځای د پابندي لاره نیولې ده، نو تاسې خو د کاینات ډېره وړه برخه یاستئ، نو بیا د دې خلاف رویې په خپلولو کې څنګه په حق کېدلی شئ. د ستر کاینات هره وړه او لویه برخه هماغه څه کوي، چې باید ویې کړي. ټول په خپله ټاکلې لاره په دومره صحت سره روان دي چې صفا ښکاري چې یوه عزیز او علیم ذات په زور دې لارې ته پابند کړي دي (یس ۳۸) په دومره ستر کاینات کې د انسان له لوري د جلا لارې انتخابول دا ښیي چې انحراف د انسان په طرف کې دی نه د نور کاینات په طرف کې. (آل عمران ۸۳)

ټول کاینات له خپلو بې شمېره اجزاوو سره په خورا توافق حرکت کوي. په دوی کې هېڅ کله ټکر نه راځي. دا یوازې انسان دی چې یو بل سره

يې ټکر راځي. ټول کاینات له خپلو بې کچې فعالیتونو سره همېشه د ګټور انجام په لوري ځي. مګر انسان داسې کارونه کوي چې تباهي او بربادي ورسره راوړي. دوه ډوله اوبو خپل ځان ته حدونه ټاکلي دي. یو ډول یې د بل ډول په حد تېرى نه کوي، حتى د غویو رمه هم ځان ته خپل حدونه ټاکلي وي. هر غویى په خپل حد کې خوراک څښاک کوي، د بل غوییي په حدودو کې نه ور ننوځي. خو انسان هېڅ ډول حدبندى ته غاړه نه ږدي. د شاتو مچى په خورا نظم او مهالوېش خپلې رغنیزې چارې مخته وړي. خو انسان نظم او ډسپلین ماتوي. مېږیان او مرغان د رزق د ټولولو لپاره په خپله خواري بروسه کوي. له چا نه یې په زور او زبردستي نه اخلي. خو انسان د بل انسان په استحصال لاس پورې کوي. هېڅ زمرى یا لېوه د خپلې نوعې حیوان نه دارې. خو انسان د انسان وینه تویوي. هېڅ ژوى حتى مار او لړم هم بې علته په چا برید نه کوي. دوى چې حمله کوي یوازې د خپل ځان د ژغورنې لپاره. خو انسان په نورو انسانانو یو طرفه تېرى کوي. ټول حیوانات د اړتیا په اندازه خوراک کوي، د اړتیا په اندازه جنسي اړیکې ټینګوي او د اړتیا په اندازه کورونه جوړوي. خو انسان په هر شي کې اسراف او بې لاریتوب او بې ځایه تکلفات غوره کوي. ټول حیوانات یوازې د خپل کار په دایره کې ځان مصروف ساتي. خو انسان د خپل عمل دایره پرېږدي او د نورو په دایره کې مداخلت کوي. د یوه شپون پنځوس اوزې چې په ځنګله کې د څرېدو په مهال د زرګونو پسونو او اوزو په رمه کې ګډې شي او بیا دا شپونکى په یوه هسک

ځای ودرېږي او اواز ورته وکړي نو ټولې اوزې يې له پردې رمې نه د ده په لور راووځي. خو د انسان دا حال دی چې د خدای او رسول په لور بلنه ورکول کېږي، نو دی له اورېدو او پوهېدو وروسته هم دې بلنې ته لبیک نه وایي.

انسان د ټول کاینات تر هغه ډېره وړه برخه ده څومره چې د ټولې مځکې په مقابل کې د وري دانه ده. نو بیا د انسان لپاره له هغې لارې پرته بله لاره څنګه سمه کېدلی شي چې د وسیعتر کاینات لاره ده. که د دومره ستر دلیل باوجود انسان د ځان لپاره بېله لاره انتخابوي، نو په شته کاینات کې دی خپل حق له لاسه ورکوي. له هغه وروسته د ده انجام یوازې همدا کېدی شي چې په دې کاینات کې خپله جایګاه ورنه واخیستل شي. د کاینات ټول شیان له ده سره له مساعدت کولو نه انکار وکړي. ټول کایناتي نعمتونه ورنه وتروړل شي او په ابدي محرومي کې واچول شي. انسان چې له کاینات سره اوړه په اوړه سفر کولو ته تیار نه دی، نو بیا څه حق لري چې د دې کاینات له شیانو ګټه پورته کړي. له دې وروسته خو بالکل د ده فطري انجام باید دا وي چې کاینات له خپلو ټولو نعمتونو سره یوازې هغو انسانانو ته ورکول شي چې همسفر یې وي، چې د ټول کاینات په څېر یې د خپل خالق او مالک تابعداري کړې وي. له دې ماسوا هغه انسانان چې د بغاوت او ځانبیني روش یې غوره کړی وي، هغوی نه د دې دنیا په رڼا کې کوم حق لري او نه یې په هوا او اوبو کې. هغوی په دې دنیا کې نه د کور جوړولو حق لري او نه د خوړو او ارام

کولو. د انصاف تقاضا ده چې کاینات له خپلو جنتي امکاناتو سره یوازې د لومړۍ ډلې په برخه شي او دوهمه ډله له ټولو بهترینو شیانو څخه محرومه پرېښودل شي.

چې خدای یې ومونده، هر څه یې ومونډل

یو شخص دې «منې» وخوري. خو د منې په خوند دې پوه نه شي او نه دې یې بدن ته ځواک او انرژي ورکړي، نو وبه ویل شي چې دې سړي منه نه ده خوړلې. او فقط د منې په شکل کې یې یو څه ژوولي دي. همداسې معامله د خدای هم ده. د خدای مونډل، هماغه مونډل دي چې انسان یې په خوند پوه شي. چې د خدای په مونډلو سربېره هم بنده خوند ونه مومي نو باید وویل شي چې ده خدای نه دی مونډلی. ده یو بل څه مونډلي دي او په غلطي کې یې وروانديې د خدای ګمان کړی دی. ګواکې د خاورې منه یې ژوولې او فکر کوي چې رښتیا منه یې خوړلې.

دنیا په خپل ابتدایي شکل مازې یو ډول ماده ده. ټوله دنیا د اتومونو مجموعه ده. یا په نورو ټکو کې، بې روحه ماده ده. دغه بې روحه ماده خدای په بې شمېره شکلونو کې راڅرګندوي. له دې بې روحې مادې نه خدای په یوه ځای کې رڼا پیدا کوي او په بل ځای کې تودوخه. چېرته دا بې روحه ماده په ښېرازي بدلوي او چېرته یې د اوبو په رواني. چېرته دا بې روحه ماده د رنګ په بڼه څرګندوي او چېرته یې بیا د خوند او خوشبویي په بڼه. چېرته دغه بې روحه ماده د حرکت کرشمې ترسره کوي او چېرته د کشش کرشمې. د داسې عجیب او غریب قدرتمن خدای مونډل مازې د یوې وچې عقیدې مونډل نه شي کېدی، د دغه ډول خدای مونډل خو داسې دي ګنې د انسان روح له یوې سترې رڼا نه وځلېږي. د زړه لپاره یې لطافت او لذت وګرځي. انسان چې یوه غوره مېوه

وخوري، نو وجود يې ورسره باغ، باغ شي. چې يوه لطيفه نغمه واوري، نو ټول وجود يې په وجد کې راشي، که د چا کره يو ښکلی ماشوم پيدا شي، نو له خوشالۍ نه په جامو کې نه ځايېږي. نو بيا هغه خدای چې د ټولو خوبيانو سرچينه ده، ايا د هغه موندل به يو څوک نه بې تابه کوي؟ او دا به مازې د بې کيفه پېښې غوندې وي؟

د خدای موندل دا دي چې خدای يوه خوشبو وي چې د انسان شامّه ورباندې معطره شي. يو خوند وي چې د ده ذايقه ورسره لطف اندوزه شي. يو لطافت وي چې د ده لامسه له کيف نه ډکه کړي. يو حسن وي چې د ده بصارت په يوه حيرانوونکې منظره کې محو کړي. يو ترنم وي چې د ده سامعې ته داسې لذت ورکړي چې هېڅ کله ورباندې موړ نه شي. هغه خدای چې رښا يې پيدا کړې، څنګه ممکنه ده چې په هغه کې دې رښا نه وي. هغه خدای چې خوند يې پيدا کړی، څنګه ممکنه ده چې په هغه کې دې خوند نه وي. حقيقت دا دی چې خدای له ټولو رښاګانو ډېر روښانه دی. له ټولو خوندونو ډېر خوندور دی. يو چاته د خدای قربت په برخه کېدل همداسې دي لکه انسان چې د رنګ او بوی په ابدي چمنستان کې مېشت شي، لکه د نوراني پيکر ګاونډ ته چې ورسېږي.

خدای د ټولو حکمتونو خزانه ده. د همدې لپاره د خدای موندنه انسان خورا زيات باشعوره کوي. خدای د ټولې مځکې او آسمان نور دی، د همدې لپاره د خدای موندنه د بنده ټول شخصيت له رباني نور نه ځلبلانده کوي. خدای د ټولو ځواکونو سرچينه دی، د همدې لپاره د خدای موندل

بنده دومره ځواکمنوي چې هېڅ سېلاب يې ځان سره يو نه شي وړی او هېڅ توپان يې ونه ور ونه شي نړوی ـــــــــ خلک له خدای نه ډېر لرې دي او فکر کوي چې د خدای په خوا کې ولاړ دي. خلک د خدای له فيضان سره نااشنا دي او فکر کوي چې د خدای له فيضان نه خپلې لمنې ډکوي.

مورِ چېرته یو؟

په ۲۲ ستمبر ۱۹۷۹ یو ستر اسلامي شخصیت وفات شو. په دې شخصیت پورې وابسته اخبارونو او رسالو کې د مرحوم په باره کې ډېر زیات مضامین خپاره شول. په دې مضامینو کې یې دا ویلي و چې د مرحوم معتقدین په خپلو زړونو کې له مرحوم سره ځومره غیرمعمولي مینه او مبحت لري. د مرحوم مینې د دوی د زړونو پیمانه ولړزوله او د مرحوم یادونه یې په خورا غمجن انداز کې وکړه. د دې مضامینو په لیدو ما د مرحوم له یوه معتقد نه وپوښتل چې ستاسې دغه اخبارونه او رسالې له دوو لسیزو هم زیات وخت نه خپرېږي. آیا تاسې ویلای شئ چې کله د خدای یادونه هم په کې په دومره جوش او مینه خپره شوې ده؟ د مؤمن تعریف دا دی چې دی د خدای په کارنامو سرشاره شي او د خدای په نوم یې په زړه او روح کې حرکت پیدا شي. نو ایا کله ستاسې د اخبارونو او رسالو په پاڼو کې د خدای لپاره د هغو غیرمعمولي کیفیاتو څرګندونه شوې ده چې ستاسې د رهبر په باره کې بیان شوي دي؟ په ځواب کې یې نومورې غلی شو.

دا یوازې د اسلامي تحریک معامله نه ده. حقیقت دا دی چې نن ورځ زمورِ د ټولو ادارو او تنظیمونو همدا حال دی. د دوی مجلسونه د خپلو «اکابرو» له تذکرو نه پورې ماموریِ دي. هر یوه د ځان لپاره ځینې اکابر جوړ کړي دي او چې کله د دې مشرانو نوم راځي نو داسې ښکاري ګواکې په ژبه او قلم یې د وجد کیفیت نازل شو. خو د دې بالعکس په یوه حلقه

کې هم دا نه تر سترګو کېږي چې د خدای له یادونې نه دې خلک لطف واخلي، د خدای د نوم په یادېدو دې په خلکو کې د مینې کیفیت پیدا شي. خدای مازې د وچې عقیدې په حیثیت کې پاتې دی، حال دا چې د دوی د خپلو محبوبو شخصیتونو کیسه دا ده چې د هغوی د نوم په یادېدو سم له واره د دوی ټول وجود په نڅا شي، د زړه او ذهن ګلزار یې وغوړېږي، د هغوی له تصور نه د دوی د خاطراتو په دنیا کې بهار راشي.

خدای د خپل لمر په مټ ټول عالَم رڼا کړی دی خو د هغه په لیدو په هیڅا باندې غیرمعمولي کیفیت نه طاري کېږي، البته په دې خبره کې دوی فخر محسوسوي چې دنیا ته ووایي چې د دوی محبوب شخصیت ټول عالَم په خپلو ویناوو ځلولی دی. د باد او هوا د نظام په لیدو دوی د خدای کاریګري ته په وجد نه راځي. البته د خپلو مشرانو د کارنامو په بیان کې دوی ته دا ډول شانداره الفاظ په لاس ورځي چې هغوی په ټوله دنیا کې د خپل فیض هوا وچلوله. په مځکه او اسمان کې د خدای بې پایه حکمتونه د دوی په روح نڅا نه راولي، البته د خپل محبوب رهبر د فکر او تدبر د عظمت په بیان کې د قاموس ټول الفاظ هم دوی ته ناکافي ښکاري. خدای په خپل ټول ځواک مځکه او اسمان سمبال کړي دي خو د هغه په لیدو د دوی د بدن وېښته نه درېږي. البته خپل مشران دوی ته داسې په نظر ورځي لکه هغوی چې ټول هېوادونو او قومونه تم کړي وي. د اوبو عجیب او غریب نظام چې په ټول معلوم کاینات کې یې مځکه په یوه استثنایي کره بدله کړې ده، دوی نه حیرانوي. البته د خپلو

مشرانو د کارنامو په بیان کې دوی په پوره جوش دا خبره کوي چې د هغوی د فیض له چینو نه ټوله دنیا خړوبېږي ـــــــ شاید انسان غواړي د لیدو وړ شی د خپلې مینې مرکز وګرځوي او دا چې خالق په سترګو نه وربښکارېږي، نو ځکه خو مخلوق د خپلې مینې مرکز ګرځوي.

د مظلوم قوم ملاتړ، له مظلوم فرد نه بې اعتنايي

د مسلم روايت دی چې په اخرت کې بـه ځينـې داسـې خلـک راوړل شي چې د اسلام په نوم به يې جهاد کړی وي، په خلکو کې به يـې د قـرآن علـم خپور کړی وي، مال او دولت به يې ښه ډېـر د الله پـه لاره کـې لګـولی وي، خو په دې سربېره به هم دا خلک جهنم ته وغورځول شي. ځکه دوی بـه دا هر څه د شهرت لپاره کړي وي. (۴۰۲) بلې خواته د همدې مسلم يو روايـت دی چې په قيامت کې به الله تعالی ځينـو خلکـو تـه ووايـي چـې تاسـې زمـا عبادت ونه کړ، تاسې په ما ډوډۍ ونه خوړه، تاسې ماتـه اوبـه رانـه کـړې. دا خلک به ووايي چې خدايه ته د ټول جهان واکمن يې، ستا يې دې شيانو تـه څه اړتيا؟ الله تعالی به وفرمايي چې پلانی شخص ناروغ و، تاسې يې پوښتنې تـه ور نـه غلـئ، پلانـی شـخص وږی تاسـې تـه درغـی، خـو تاسـې ډوډۍ ورباندې ونـه خـوړه، پـلاني شـخص اوبـه درنـه وغوښـتې، خـو تاسـې اوبـه ورباندې ونه څښلې. که مو داسې کړي وای، نو زه به مو هلتـه مونـدلی وای. (۲۴۵)

د کار يو ډګر هغه دی چې ليـدونکي دې ګـوري او سـتايونکي دې سـتاينه کوي، هلته چې يو کار سمدستي د اخبارونو سرټکی ګرځـي. د کـار يـو بـل ډګر هغه دی چې يا خو ليدونکي هېڅ وي نه او يا د خپل نوعيـت پـه اعتبـار يوه داسې خبره وي چې خلک يې د چرچې وړ نه ګڼي، په اخبـارونو کـې د شانداره سرټکو ځای نه نيسي. يا په نورو ټکو کې يو کار د جـامعې پـه عامـه سطحه کې کېږي او بل کار د فرد په سطحه کې. لومړی کـار «خلـک» وينـي او دا بل کار هغه دی چې خدای يې وينې.

الله تعالی ته چې زموږ د اسلام امتحان په کوم ځای کې مطلوب دی، هغه فرد دی، نه عامه جامعه. د فرد په سطحه چې څوک د تقوا او اسلامیت ثبوت ورکوي، هماغه د خدای په سترګو کې مسلمان او متقي دی. د ولس په سطحه د اسلامیت اظهار د شهرت‌طلبي په بنا هم کېدی شي. خو کله چې د یوه بنده مخې ته یو تنها شخص راشي او دی ورسره مرسته کوي، نو په دې کې د شهرت هېڅ انګېزه لاس نه لري.

نن ورځ د مظلوم قوم په ملاتړ کې هر شخص غږېږي خو د مظلوم فرد ملاتړی هېڅ څوک نشته. هماغه کس چې په دریځ باندې د ملت د مظلومي په باره کې د ویناوو سیندونه بهوي، چې کله د ملت یو فرد له خپل مصیبت سره ورته راځي نو دی د فرد د ستونزې له حلولو سره هېڅ لېوالتیا نه لري. په ملت باندې که کوم غم راشي نو دی د برېښنا او ټلیفون او الوتکې په چټکتیا په هغه پېښه کې د خپلې ونډې لپاره منډې ترڅې وهي. خو د همدې ملت یو فرد چې د خپلې ستونزې د حل لپاره ده ته فریاد کوي، نو د ده په سینه کې د کانې زړه مومي. په لرې سیمه کې که په اخلاقو او انسانیت یا اسلامي قانون سیمینار وي نو هر سړی غواړي چې په الوتکه کې سپور شي او په «نړیوال» سیمنار کې یوه شانداره وینا پیش کړي. خو د ګاونډ یو عام فرد چې له ده نه د اسلامي رویې خیرات وغواړي او د ده په وړاندې د اخلاقو او انسانیت له فریاد سره ودرېږي، نو د هغه د اوربدو لپاره به ده سره هېڅ فرصت نه وي.

د دنیا خطر بنده همېشه په خپل ځان محسوسوي

او د اخرت خطر یوازې په نورو

یو ځل ما د هریانه په سیمه کې په بس کې سفر کاوه. اوږد بس تقریباً ټول ډک و. په یوه ځای کې له مخې ټرک راغی، بس غوښتل هغه ته لاره ورکړي. د بارانونو موسم و. د پاخه سړک په غاړه د خاورې برخه نرمه شوې وه. د بس یوه خوا ټایرونه له سړک نه خامې ته شول. خو تر اوسه پورې لا بس چپه شوی نه و، یوازې کوږ شوی و چې په ټولو مسافرو کې منډې رامنډې شوې. هر سړی له خپل سیټ نه په منډو شو. د بس په دواړو دروازو باندې بې خرته هجوم راټول شو. ځینو په عجله کې له کړکیو نه ټوپونه واچول. خلک دومره بې تابه وو چې هر شخص داسې محسوسوله چې ټول خطر یوازې د ده لپاره دی او یوازې همدی به د دې پېښې ښکار کېږي. زه د خلکو د وارخطایي په لیدو کې دومره غرق وم چې هېڅ مې پام نه شول چې په دې نازکه شېبه کې باید زه هم د دوی غوندې لاس په کار شم.

بنده چې له یوه خطر سره مخ شي، نو همدا یې حال وي. د خطر مسئله که د زرګونو خلکو لپار هم وي، خو هر انسان همدا فکر کوي چې ټول خطر بس د ده لپاره دی او له ټولو نه دمخه یوازې دی باید د ځان د ژغورلو فکر وکړي. دغه ډول تجربه په اګست ۱۹۷۹ کې هم د اتیا ټنه فضایي لابراتوار په اړه پېښه شوه. امریکا اعلان وکړ چې په فضایي

لابراتوار يې کنټرول له لاسه ورکړی دی او اندېښنه ده چې مځکې ته راوغورځي. د دې خبرې په اوږدو په ټوله دنیا کې هر تن داسې وډار شو لکه فضایي لابراتوار به چې د ده په سر راوغورځي ـــــــ عجیبه خبره ده چې د دنیوي خطر په باره کې چې خلکو ته کومه خبره دومره له اهمیت سره معلومه ده، همدا خبره دوی د اخرت د خطر په برخه کې بالکل هېره کړې وي. د دنیا خطر هر انسان تر ټولو مخکې په خپل ځان محسوسوي او د ځان د ژغورلو فکر کوي. خو د اخرت د خطر په باره کې داسې مطمئن وي لکه د دې اندېښنه چې یوازې د نورو لپاره ده. د خپل ځان لپاره یې هېڅ اندېښنه نشته.

ارتقا د تجربې په زرکانې

انسان او نور بې شمېره حیوانات څنګه منځته راغلل. د ارتقا نظریه وایي چې دوی ارتقا کړې او خپله موجوده بڼه یې مونډلې ده. مثلاً انسان د حیواناتو د یوې ځانګړې ځانګې پرمختللی شکل دی. دې ځانګې ارتقا وکړه او بلاخره خبره تر بې لکۍ بیزو (ګوریلا، شمپانزي) پورې ورسېده. د دې نظریې له مخې باید دا ممکنه وای چې په بیزوګانو کې د روزنې له لارې هغه ارتقایي اوصاف وروزل شي چې نن ورځ په انسانانو کې لیدل کېږي. خو په امریکا کې په دې تړاو د ټېرو دیارلسو کلونو کوششونه بشپړ ناکام شول. ځینې جذباتي ارتقاپلوي اوس هم وایي چې دوی مایوسه نه دي، خو حقیقي پایلې بیا هم د دوی د خوش ګومانۍ تایید نه کوي.

هربرټ ټریس (Herbert Terrace) د کولمبیا پوهنتون پروفیسر و. ده د شمپانزي یو بچی ځان سره په خپل کورني ماحول کې وساته او د هغه روزنه یې پیل کړه. د ټریس بنیادي مقصد هغه ته خبرې ور زده کول و. خو د څلورو کلونو له پرلپسې هڅو باوجود دی بریالی نه شو. ده ویل چې شمپانزي یوازې دومره څه زده کړل چې یو سپی یې هم زده کولی شي، سپی د خپل څښتن په ځینو اشارتي اوازونو حرکت کوي، دغه راز شمپانزي هم. شمپانزي د ځینو کلمو ویل خو زده کړل، مګر د ده ټول استعداد له سوچه تکرار پرته نور هېڅ هم نه و. د پروفیسر ټریس په خبره، د غږېدو صلاحیت د انسان خصوصي صلاحیت دی. داسې ښکاري چې

د «انسان حیوانِ ناطق دی» لرغونی انساني تعریف د نن ورځې لپار هم درست دی.

د بې لکۍ بیزوګانو حافظه ښه وي، نو ځکه ګڼ داسې ګوریلا او شمپانزي شته چې له تمرین وروسته یې د انساني ژبې ګڼ الفاظ یاد کړي دي، خو ډاکټر ټریس وایي چې د اوږدې روزنې باوجود دوی دا استعداد ونه شو ښودلی چې ببل، ببل زده کړي الفاظ سره یوځای کړي او یوه بامعنا جمله ورنه جوړه کړي. ډاکټر ټریس دغه روزنه په نومبر ۱۹۷۳ کې پیل کړې وه. ډاکټر ټریس د روزل شویو شمپانزیانو پیته خلکو ته واورولە. شمپانزي یاد کړي الفاظ تکرارول. خو ټول الفاظ یې بې ترتیبه وو لکه یو څوک چې لیکلي کارتونه په بې ترتیبه ډول راباسي. مثلاً د شمپانزي د یوې «وینا» الفاظ دا و:

Give orange me give eat orange me eat; Orange give me eat orange give me you

د انسان بچی په خپل کور کې پخپله خبرې کول زده کوي. خو شمپانزي په هماغه ماحول کې د ماهرینو د خصوصي تربیې باوجود هېڅ هم نه و زده کړي. یوازې ځینې میخانیک کړي الفاظ یې بې ربطه تکرارول. او په دې ونه توانېده چې دا الفاظ په یوه معنا لرونکې جمله کې وپېیي.

رښتينولي هغوی مومي چې د رښتينولۍ طالب وي

د معاني دنيا د خدای د جلوو دنيا ده. څوک دی چې د خدای جلوې دې په انساني ژبه کې بيان کړای شي. حقيقت دا دی چې چېرته الفاظ ختم شي، معاني له هماغه ځايه شروع کېږي. مور چې کله يوه معنا بيانوو، نو مور کټ مټ معنا نه بيانوو، بلکې يو څه کمی په کې کوو. او يوه لفظي پرده ورباندې وغوړوو. په يوه بامعنا حقيقت يو شخص مازې د الفاظو په مټ نه شي پوهېدی. يو ړوند د يو چا په ويلو په دې نه شي پوهېدی چې ګل څه دی؟ دغه راز يو شخص چې په ځان کې يې د معنوي حقايقو د ليدو استعداد نه وي روزلی، هغه له معنوي حقايقو څخه نه شي خبرېدلی. ان که د قاموس ټول الفاظ هم د هغه مخې ته کېښودل شي، ان که د قاموس المعاني ټول جلدونه هم هغه ته ولوستل شي.

په قرآن کريم کې راغلي دي چې دا يو داسې کتاب دی چې هېڅ شک په کې نشته. خو له دې کتاب نه هدايت هغه څوک مومي چې په ځان کې د تقوا صفت ولري. د دې معنا دا ده چې رښتينولي هغه څوک مومي چې په زړه کې يې د حقيقت څرک موجود وي، هغه شخص چې د حقيقت په لټه کې وي، چې حقيقت يې ضرورت ګرځېدلی وي، چې د حقيقت د ترلاسي لپاره دومره ناکراره وي چې د همدې په ياد کې ويده کېږي او د همدې په ياد کې راويښېږي. يو بنده چې په دغه ډول د حقيقت طالب وي، قرآن د هماغه لپاره هدايت ګرځي. دا ډول شخص ګواکې د هدايت نيمه لاره لنډه کړې وي، دی په خپل وجود کې د الست

پټ خدايي اوازونه اوري، په خپل ځان کې يې هغه صلاحيت بيداره کړی وي چې د معاني په ژبه پوهېږي. داسې شخص له مادي دنيا سره د بې رغبتي له امله د حقايقو عالَم ته دومره نيږدې شي چې د پرښتو پټې خبرې هم اوري. د نبوت له علم نه مخکې دا ټول تجربات په بنده کې په مبهم او مجهول انداز کې وي. او کله چې د قرآن اواز د ده زړه ته ښکته شي، نو قرآن د ده د فطرت د کتاب لپاره يو تفسير وګرځي. دی په خپل درون کې پټ غيرملفوظ اشارات د لفظونو په ژبه کې وموميِ. قرآن او قرآن لوستونکی دواړه د يو بل مثنی (کاپي) شي. قرآن دی شي او دی قرآن.

د اړیکو بنیاد

او ابراهیم وویل: تاسې چې الله نه پرته څه نیولي هغه خو ایله بتان دي چې دنیایي ژوند کې مو خپل ترمنځ د مینې وسیله ګرځولي، خو وروسته به د قیامت په ورځ یو بل نه انکار او ځینې به مو پر ځینو لعنت کوي او استوګنځی به مو اور او هیڅوک مرستندویان به مو نه وي. (عنکبوت ۲۵)

ابراهیم علیه السلام د لرغوني عراق وګړو ته دعوت ورکړ چې د الله عبادت وکړئ، له الله نه وډار شئ او له شرک نه ځان وساتئ. دا دعوت خلکو ته دومره سخت ښکاره شو چې هغوی پرېکړه وکړه چې د خدای پیغمبر ووژني یا یې ژوندی وسوځوي. د قوم له لوري دومره سخت غبرګون ولې ښکاره شو؟ د دې وجه دا وه چې شرک د دوی لپاره د دنیوي تعلقاتو بنیاد ګرځېدلی و. شرک پرېښودل او د پیغمبر ملګرتیا کول د دنیوي تعلقاتو د ختمولو هم معنا تر سترګو کېدل. نو ځکه د خپلې دنیا د ژغورلو لپاره هغوی دا پرېکړه وکړه چې د پیغمبر تحریک باید ختم کړي.

انسان همېشه له قوم یا ډلې سره ژوند کوي. هغه خلک چې یو بل سره یې راشه درشه جوړه شي، د همدې راشې درشې په بنا د یو بل ملګرتیا کوي. یو بل سره راکړه ورکړه کوي، د یو بل اسره ګرځي. یوه ته له بل نه ارواییي تقویت حاصلېږي. دغه ډول اجتماعیت یا ډلبندي اصلاً د دنیوي انګېزو له مخې وي خو د اعتقادي بنیاد یا فکري سمبول په حیث ځینې شیان په هغوی کې د درناوي وړ وګرځي. کله کوم بت، کله کوم شخصیت، کله یو بل مادي یا غیرمادي تصور. د مینې دغه مرکز خلک له یو بل سره تړلي وي او د دې مرکز په ډېر شدید ډول حفاظت کېږي.

ځکه خلک اندېښنه لري چې د دې مرکز له ماتېدو سره به د دوی د دنیوي ګټو شړې وشړېږي. بنده چې د دوستي په نظام پورې تړلی وي، له هغه نه په عامو حالاتو کې هم بېلتون د مشکلاتو باعث ګرځي او که دغه بېلتون د یوه داسې شخص د ملګرتیا په پایله کې وي چې د دوستۍ په شته نظام باندې تنقیدونه کوي، نو بیا یې مشکلات هېڅ حد او اندازه نه لري. پیغمبر راته وایي چې د مینې د مرکز لپاره وړ ذات یوازې خدای دی. هماغه په حقیقي معنا دا شان لري چې انسان یې خپل معبود وګرځوي او خپلې اجتماعي اړیکې وربانديې استوارې کړي. له هغه پرته بله هره اسره دروغجنه ده. بل هېڅ شي ته هم په حقیقي معنا د معبودیت مقام حاصل نه دی. بنده چې بې له خدایه بل چاته دغه مقام ورکوي، نو دا د ده لپاره یوازې یو فریب وي. په اخرت کې چې کله حقیقت ښکاره شي نو د غیرالله په بنیاد یو بل سره دوستي کوونکي به ټول په یو بل لعنت وایي او له یو بل نه به لرې تښتي.

ځومره خلک دي چې په خپل قوم او د خپلې حلقې په خلکو کې به ډېر بااخلاقه لیدل کېږي. خو هلته چې د دوستي اړیکه یې نه وي، نو د هېڅ ډول اخلاقو توقع ورنه نه شي کېدی. د دوی خوش خلقي، شرافت، فیاضي، همکاري، او په ژمنه درېدل د هغو خلکو لپاره وي چې د دوی «معبود وروڼه» وي. له چاسره یې چې دغه ډول دوستي او تعلق نه وي، هغوی ته د اخلاقو ډالۍ ورکول دوی اړین نه ګڼي. د دوی اخلاقیات د دوی د دنیوي دوستي د نظام تابع وي، نه د خدای تابع.

د رسول الله اخلاق

د فرانسې مشهور فلسفي والتير (۱۶۹۴- ۱۷۷۸) ويلي و چې هېڅ انسان د خپلو نيږدې خلکو لپاره اتل نه وي.

No one is a hero to his valet.

ځکه د نيږدې خلکو نظر د بنده په شخصي ژوند باندې وي او په شخصي ژوند کې هېڅ څوک هم کامل نه دی. د لرې خلکو ته چې يو انسان څومره ښه ښکاري، د نيږدې خلکو ته هغه شخص دومره ښه نه معلومېږي. همدا ده چې د نيږدې خلکو په زړونو کې د هغه په باره کې د يوه اتل جذبات نه پيدا کېږي. خو سورن سميت ليکلي دي چې دا قاعده د اسلام د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په باره کې صدق نه کوي، ځکه تاريخ راته وايي چې څوک رسول الله ته څومره نيږدې و، هغومره د رسول الله په خوبيانو او ښېګڼو ډېر مبين و.

زيد بن حارثه رض د کلب قبيلې د يوه تن حارثه بن شراحيل زوی و. مور يې سُعدي بنت ثعلبة وه چې د طی قبيلې له يوې څانګې بني معن څخه وه. زيد چې په اته کلنۍ کې و، نو مور يې دی له ځان سره خپلې پلرګنۍ ته بيوه. هلته د بني قيس بن جسر خلکو د دوی په قافله برید وکړ. هغوی د نورو شيانو په منځ کې زيد هم ورسره پورته کړ. دوی زيد د عکاظ مېلې ته يووړ او هلته يې په حکيم بن حزام خرڅ کړ چې د حضرت خديجه رضي الله عنها وراره و. حکيم بن حزام ماشوم مکې ته راووړ او د غلام په حيث يې خپلې ترور ته ورکړ. د رسول الله صلی الله عليه وسلم نکاح چې له حضرت خديجې سره وشوه، نو هغې زيد د رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت ته وسپاره. دې وخت کې د زيد عمر ۱۵ کاله و.

څه موده وروسته د زید رض پلار او تره چې خبر شول، نو هغوی مکې ته راغلل چې خپل ماشوم بېرته له ځان سره واخلي. هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ولیدل او ورته ویې ویل چې تاسې هره فدیه غواړئ مونږ یې درکولو ته تیار یو. تاسې زمونږ ماشوم بېرته مونږ ته راکړئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل زه فدیه نه غواړم. که زلمی تاسې سره تلل غواړي، نو درسره وړلی یې شئ. رسول الله ص زید راوغوښت او ورته ویې ویل چې دوی پېژنې؟ هغه وویل، هو، دا زما پلار او تره دي. رسول الله وفرمایل: دا خلک تا له ځان سره بیول غواړي، که ته غواړې نو له دوی سره خپل کور ته تللی شې. زید رض ځواب ورکړ: زه تاسې نه هېڅ ځای ته هم نه ځم. په دې خبره د زید پلار او تره غوسه شوو. هغوی ورته وویل: ته د ازادي په ځای غلامي خوښوې او خپل پرېږدې او له پردیو سره ژوند تېرول غواړې. زید وویل: ما په محمد ص کې داسې خوبیانې لیدلې دي چې له هغه وروسته زه اوس هیڅوا ته هم په دوی ترجیح نه شم ورکولی. په دې سره د زید پلار او تره بېرته خپل وطن ته ستانه شول ـــــــ دا له نبوت نه د مخکې پېښه ده. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خصوصیت ته په قرآن کریم کې په دې ټکو کې اشاره شوې ده:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ. (آل عمران ۱۵۹)

ژباړه: نو د خپل رب په لورېنه ورته نرم شوی یې او که توند خویه او سخت زړی وای نو دوی ټول به دې له چاپېره خواره شوي وو.

چې کرتب بازۍ کمال ولیدل شوه

ویل کېږي چې د خلیفه هارون رشید دربار ته یو تن راغی او ویې ویل: که ستاسې اجازه وي، نو زه به خپل یو کرتب درښکاره کړم. هارون رشید اجازه ورکړه. سړي له خپلې ځولۍ نه دوولس لوبې، لوبې ستنې راوایستې. ده یوه ستنه واخیسته او لرې یې وغورځوله، ستنه په ولاړ حالت کې په مځکه کې خښه شوه. بیا یې دویمه ستنه وغورځوله، هغه د لومړۍ ستنې په سوري کې بنده شوه. بیا یې دریمه ستنه وغورځوله، هغه د دویمې ستنې په سوري کې بنده شوه. همدا ډول یې یوه، یوه ستنه غورځوله او هره ستنه د خپلې مخکینۍ ستنې په سوري کې ننوته او بلاخره د دوولسو ستنو یو جال جوړ شو. هارون رشید په ډېرې حیرانتیا دې تماشې ته کتل؛ او په اخر کې یې لس درهمه هغه ته ور وشړل او ویې ویل **خذهاافلک** (واخله، په تا دې افسوس وي)؛ کاش په کوم ګټور کار کې دې دومره مهارت پیدا کړی وای.

کله چې مسلمانان ژوندي وو، نو هغوی ته معلومه وه چې په کرتب بازي کې او په یوه حقیقي کار کې څه فرق دی ـــــــ خو نن ورځ د همدې مسلمانانو د بې شعوري دا حال دی چې له دې فرق نه د بې خبري له امله کرتب بازۍ ته هغه دادونه ورکوي چې یوازې باید حقیقي کار ته ورکول شي. قافیې سره قافیه تړونکی شاعر، د لفظونو ګلدسته سازوونکی ویناوال، له سیاسي شورشونو څخه د قوم اینده جوړوونکی رهبر، ټول همدغه ډول کرتب بازان دي لکه د هارون رشید په زمانه کې یاد شخص. خو هارون رشید د خپلې زمانې کرتب باز ته ویلي و چې افسوس دې وي دربانديې. حال دا چې د نن ورځې کرتب بازانو ته شانداره

نومونه ورکول کېږي او له هر لوري د هغوی د هرکلي لپاره د غونډو هجوم جوړ دی. د اوسنۍ زمانې د کرتب بازانو په فهرست کې له ټولو نه مخکې هغه انقلابي مشران دي چې د ویناوو په مټ هره ورځ شانداره محلونه دروي. د هارون د زمانې کس که د ستنو لوبه نندارې ته وړاندې کړې وه، نو دوی د لفظونو لوبه نندارې ته ایښې ده. یوه مشر په یوه «ستره اسلامي غونډه» کې وینا کوله. نوموړي خپله له جوش نه ډکه وینا په دې جمله پای ته ورسوله ـــــ «مسلمانو ځوانانو ته زما پیغام دی چې د کفر څراغ هر چېرې وموميئ، مړ یې کړئ.»

دغه ډول مجاهدانه ویناوې نن ورځ په ټوله دنیا کې ګړنجېږي. دوی مسلمان ځوانان خورا زیات جذباتي کړي دي، خو په «کافرو ملتونو» د دې ځوانانو هېڅ وس نه رسېږي. ځکه نورو ملتونو د ځواک ټول اسباب چمتو کړي او خپل ځان یې خورا زیات ځواکمن کړی دی او مسلمانان د هغوی په مقابل کې په هر لحاظ وروسته پاتې دي. خو د جهاد لپاره د خلکو د زیاتېدونکو جذباتو لپاره یو هدف پکار و، نو همدا ده چې اوس دوی هر یوه په خپلو مسلمانو وروڼو کې د «کفر څراغونه» موندلي دي او هر یو د هغوی په مړ کولو لګیا دی. چېرته دغه جهاد د مرمیو په باران کې ترسره کېږي او هلته چې دغه ډول فرصت نشته، نو له دې نه په یو څه راټیټه درجه کې. اوس د کفر د څراغ مړ کولو شعار له عملي پلوه د اسلام د څراغ مړ کولو معنا خپله کړې ده. چېرته پوځونه په خپل هېواد باندې ولکه ټینګوي او د فتحې بیرغونه رپوي. چېرته رهبران خپل مسلمان سیاسي مخالفین وژني او د مجاهد لقب ځان ته اخلي. چېرته یوه ډله خپل ورور د تجاوزانه اقداماتو هدف ګرځوي او د باطل د ختمولو کارنامه سرته رسوي.

د اخلاقو ځواک

د ۱۹۳۳ کال پېښه ده. په فتې‌ګړ (اتر پردیش) کې د سکوا په نوم یوه ډاکو بورډنوونکې وېره خپره کړې وه. د ده لوټماریو ورځ تر بلې زور نیوه. د پولیسو لپاره هېڅ دا شونې نه وه چې دی د خپلو مرمیو هدف وګرځوي خو په همدې زمانه کې هم یو لوړپوړی افسر د پولیسو په دې انتقام اخیستونکې ډله کې مستثنا و. دا سید صدیق حسن (مړینه ۱۹۶۳) و. صدیق حسن صاحب په دې زمانه کې د فتې‌ګړ ولسوال و. د سکوا ډاکو د نیولو هڅه د ده تر امر لاندې ترسره کېدله. د څو میاشتو له هلو ځلو وروسته سکوا ډاکو ونیول شو او صدیق حسن د هغه قضیه محکمې ته وړاندې کړه او سکوا په خپله سزا محکوم شو. خو په همدې زمانه کې چې صدیق حسن صاحب د سکوا ډاکو په خلاف د هڅو رهبري کوله، سکوا د ده په خلاف هېڅ اقدام ونه کړ. له نیول کېدو وروسته سکوا وویل چې ډېرې وختونه به د شپې له خوا د صدیق حسن صاحب بنګلې ته ورتلم، خو د هغه د شرافت له امله مې هېڅ کله په ده ډز نه دی کړی.

د سید صدیق حسن صاحب هغه کومه خبره وه چې یوه ډاکو هم د ده ستاینه او درناوی کاوه. دا له یوې پېښې معلومېږي چې پخپله سکوا ډاکو بیان کړې. ده وویل چې یو ځل پولیسو زه ونیولم او د سید صدیق حسن صاحب بنګلې ته یې راوستم. د یخنۍ موسم و. سکوا صدیق حسن صاحب ته وویل: «افسر صاحب! ستاسې سکوا یخنۍ نیولی دی.» په دې خبره صدیق حسن صاحب سمدستي دننه لاړ. خپل نوی ورېښمین کمیس او کمبله یې راوړل او ماته یې وسپارل او ویې ویل، «له دې نه ګټه واخله، دا ستا لپاره دي.»

یو څوک چې هر څومره بې وسلې وي، خو یوه وسله همېشه ورسره وي چې په خپل سیال باندې بریالی شي. او هغه د اخلاقو وسله ده. یو حکیم صاحب و. ده په ښار کې معاینه خانه لرله او په اوونۍ کې به یو ځل خپل کلي ته راته. په کلي کې د ځینو خلکو له ده سره دښمني شوه. هغوی یوه کس ته څو سوه روپۍ ورکړې او ورته ویې ویل چې حکیم صاحب د شپې راځي ته لاره ورته ونیسه او ویې وژنه. غریب سړی د پیسو حرص واخیست او له کلي دباندې تر یوه پله لاندې پټ ورته کېناست. حکیم صاحب چې پله ته راورسېد، هغه کس ناڅاپه ورباندې راووت. حکیم صاحب په اولني دید کې دی وپېژاند. کله چې پوه شو چې سړی یې وژلو ته راغلی دی نو ده ورته وویل چې لږ صبر وکړه. بیا یې ورته وویل «هغه ورځ دې نه یادېږي چې خپل کمکی بچی دې په ټوکرۍ کې ماته راوړی و، مریضي یې وضعیت ډېر زیات خراب کړی و او تاسره یې د علاج پیسې نه وې. ما ستا د بچي وړیا درملنه وکړه او هغه روغ شو. ایا زما د هغه احسان بدله همدا ده چې اوس یې له ماسره کول غواړې. په دې خبره سمدستي سړي خپله لښته وغورځوله او د حکیم صاحب پښو ته ور ولوېد. او ویې ویل، «تاسې رښتیا وایئ، زه د پیسو حرص ونیولم او ستاسې وژلو ته راضي شوم. خو اوس به هېڅ کله دا کار ونه کړم. تاسې ما وبښئ.» د یوه ځناور مخه هېڅ ډول اخلاقي دلیل نه شي نیولی. خو د انسان د ګټلو لپاره اخلاقي دلیل هم کافي دی په دې شرط چې دلیل په حقیقي معنا اخلاقي دلیل وي نه مازې د الفاظو یوه ټولګه وي.

هغه ظالم و، مګر څوک ظالم نه دی

- خلک وایي، هغه ظالم و. مګر دی د چا لپاره ظالم و. د هغو خلکو لپاره چې د سیاسي مخالفینو په حیث د ده مخې ته ودرېدل. او څوک دی چې د خپلو مخالفینو لپاره ظالم نه دی؟
- هغه له خلکو سره انصاف نه دی کړی. خو ده له کومو خلکو سره انصاف نه دی کړی، له هغو خلکو سره چې د ده ورسره دښمني راغلې وه. او څوک دی چې له خپل دښمن سره دې انصاف وکړي.
- هغه د حق د اعلان کوونکي اعتراف ونه کړ. خو ده د کومو خلکو اعتراف ونه کړ. د هغو خلکو چې د حق خبرې له امله یې د ده په شخصیت باندې خبره راتلله. او څوک دی چې د هغه حق اعتراف دې وکړي چې د ده خپل ذات یې هدف ګرځي.
- هغه خلک بې کوره کړل. خو ده کوم خلک بې کوره کړل، هغه چې د ده انانیت یې ننګولی و. او څوک دی چې داسې څوک بې کوره نه کړي چې د ده ایګو ته چیلنج ګرځېدلی وي.
- هغه د خلکو فضل او کمال ته غاړه نه ده ایښې. خو ده د کومو خلکو فضل او کمال ته غاړه نه ده ایښې، د هغو خلکو چې دې ته اماده نه وو چې د ده د کبر چپنې ته تنې شي. او څوک دی چې د هغه چا فضل او کمال ته دې غاړه کېږدي چې د ده د کبر چپنې ته تنې نه ګرځي.
- هغه له خلکو روزګار واخیست. خو ده له کومو خلکو روزګار واخیست، له هغو خلکو چې په ده یې تنقیدونه رااخیستي وو، او څوک دی چې د هغه چا روزګار دې ورنه وانه خلي چې په ده تنقید کوي.

- هغه خلک ډلیل کړل. خو ده کوم خلک ډلیل کړل؟ هغه خلک چې د ده د لوبې له منلو نه یې انکار کړی و. او ځوک دی چې هغه ځوک ډلیل نه کړي چې له لوبې نه یې انکار کوي.
- هغه د خلکو استوګنې ور ویجاړې کړې. خو ده د کومو خلکو استوګنې ور ویجاړې کړې، د هغو خلکو چې د ده په ماتحت کې وو، خو ژوند یې د ده د ماتحت په حیث نه تېراوه. او ځوک دی چې د خپلو هغو ماتحتو استوګنې دې ویجاړې نه کړي چې په سرکښې لاس پورې کوي.
- هغه په خلکو د ژوند دروازې وتړلې، خو ده په کومو خلکو د ژوند دروازې وتړلې، د هغو خلکو چې د ده چاپلوسي ته تیار نه وو. او ځوک دی چې د هغه چا دروازې دې بندې نه کړي چې د ده چاپلوسي ته تیار نه وي.
- هغه رښا کورونه بې رښا کړل، خو ده کوم کورونه بې رښا کړل، هغه کورونه چې د ده متکبرانه ذهنیت ته یې خواړه نه ورکول او ځوک دی چې هغه رښا کور دې تیاره نه کړي چې د ده متکبرانه ذهنیت ته خواړه نه ورکوي.
- ده په خلکو د دروغو تورونه پورې کړل. خو ده په کومو خلکو د دروغو تورونه ولګول، په هغو خلکو چې له ده نه د جامو په ویستلو یې لاس پورې کړی و. او ځوک دی چې په هغه چا د دروغو تور نه پورې کوي چې وجود یې د ده د بربنډولو هم‌معنا ګرځېدلی وي.

په ننني دنیا کې هر یو ظالم دی، خو هر یو لګیا دی چې بل لوری ظالم ثابت کړي.

د انسان تر ټولو لویه کمزوري

یوه شخص ویل چې دې دنیا کې یوازې غم دی. د خوشالي په نوم هېڅ هم نشته. یوه ورځ دی له خپلې مېرمنې سره ناشتې ته ناست و. د خبرو په وخت کې یې ذهن ته یو خیال ورغی. د ده په لاس کې په کوچو لړلې د مړۍ ټوټه وه. ده وویل په دنیا کې غم دومره زیات دی چې که دا ټوټه زما له لاسه خطا شي او په مځکه وغورځي، نو دا به هم په هغه اړخ لوبږي چې کوچ وربانديې لګېدلي دي. مېرمنې یې ورته وویل چې دا فکر دې سم نه دی. په دنیا کې غم او خوشالي دواړه دي. که د مړۍ دا ټوټه په مځکه وغورځي، نو دا په هغه اړخ هم لوېدلی شي چې کوچ وربانديې لګېدلي او په هغه اړخ هم چې کوچ وربانديې نه دي لګېدلي. په دواړو کې بحث روان و. اخر ښځې وویل چې ښه ځه ویې ازمایه. د مړۍ ټوټه په مځکه وغورځوه او وګوره چې له دواړو نه په کوم اړخ غورځېږي. سړي ټوټه پورته وار کړه، او په مځکه چې وغورځېده نو تصادفاً خبره بالعکس پېښه شوه. د کوچو خوا یې پورته راغله. تجربې د ښځې خبره دوه او دوه څلور غوندې ثابته کړې وه. خو دې شي هم د سړي خوله ونه تړله. او سمدستي یې وویل: چې خبره دا ده چې ما کوچ په غلطه خوا لګولي وو.

دا ټوکه د انسان اروایي حالت ډېر ښه روښانه کوي. بنده د یو چا خبره هغه وخت مني چې پخپله یې منل غواړي. که دی نه غواړي چې خبره ومني، نو بیا یې په هېڅ ډول هم نه شئ وربانديې منلای او دی به د هر ډول دلیل لپاره یو څه الفاظ پیدا کړي. دلیل که هر څومره قوي هم وي، د بنده خوله نه شي تړلی. ماشین سره تاسې داسې کولی شئ چې بټنه کېکاږئ او د خپلې خوښې پایله ترلاسه کړئ. خو انسان دغه ډول ماشین

نه دی. د انسان په صورت کې نتیجه ټوله پخپله د «ماشین» په لاس کې ده، نه ستاسې په لاس کې. دلیل د بټنې ځای نه شي نیولی. او بلاشبه د ژوند تر ټولو لویه تراژیدي همدا ده.

کله چې یوه خبره مخې ته راشي نو سمه طریقه دا ده چې بنده د خپل واقعي اصلیت له مخې هغه خبره وارزوي. په پرانیستي ذهن غور وربانديې وکړي. د منلو یا منلو لپاره یې بنیاد پخپله د خبرې سموالی یا ناسموالی وي، نه نور معیارونه. همدا د حق د غوښتونکي تګلاره ده. مګر نن ورځ وضعیت داسې دی چې هر کس خپل ذهن په یو نه یو ځای پورې تړلی دی. او په یو نه یو ځای کې یې خپل ځان پټ کړی دی. د ده پربکړې د همدغو پټو وفاداریو له مخې ترسره کېږي نه په حقیقت کې د بې پرې ارزونې له مخې. پایله یې دا ده چې کله یوه خبره مخې ته راځي نو بنده یو ډول منفي غبرګون ښکاره کوي. او مثبته رویه نه شي ښودلی. دی د خبرې د اصلیت په ځای د خپلو تعصباتو او خپلو مصلحتونو له مخې هغې خبرې ته ګوري. له دې امله خو یا د ده ذهن د تاویل په لور اوړي یا د تردید په لور. دی د تصدیق او اعتراف په خوا تللو ته نه تیارېږي. هغه خبره چې د بنده د خوښې خلاف وي، چې د ده شخصیت په کې وړکی کېږي، په دغه ډول خبرو کې دی هڅه نه کوي چې په سنجیده ډول ځان وربانديې پوه کړي. دی خبره د ناموافق ذهن له مخې اوري او تر سمدستي تاثر لاندې قضاوت کوي او د خبرې په رد لاس پورې کوي. دی فکر کوي چې ما یوه خبره غلطه وموندله ځکه مې رد کړه، حال دا چې په حقیقت کې ده خپل خودساخته تصور رد کړی وي، نه د مخاطب کړې خبره.

د اسلام د نوي تاریخ لپاره

د قرآن په دوو سورتونو کې اعلان شوی دی چې اسلام ته الله تعالی په ابدي ډول د غلبې صورت ورکړی دی:

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ.(توبه۳۳،صف ۹)

ژباړه: دی هماغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره د دې لپاره راولېږلو چې پر ټولو دینونو یې برلاسی کړي، که څه هم مشرکانوته بد وبرېښي.

په دې آیت کې هدایت په قرآن تفسیر شوی دی او دینِ حق په اسلام. او له اظهار نه مراد دی د دلیل او بیان له پلوه اسلام ته په ټولو ادیانو باندې برتري ورکول. مطلب دا دی چې د قرآن کریم په صورت کې چې الله تعالی خپل وروستی دین نازل کړی دی، هغه له کُلي صداقت نه برخمن دی. د همدې لپاره ټاکلې ده چې د هر بل دین په مقابل کې لوړ او برتر ثابت شي، بل هر دین یې په وړاندې بې اصله پاتې شي. د اسلام له اظهار نه مراد تقریباً هماغه ډول فکري غلبه ده چې په اوسنۍ زمانه کې جمهوري طرزِ فکر په پادشاهي طرزِ فکر، د اجتماعي ملکیت نظریې د انفرادي ملکیت په نظریې او طبیعي علومو (ساینس) په فلسفي علومو باندې موندلې ده.

د قرآن کریم دغه بیان په لومړي دور کې په بشپړ ډول په واقعیت بدل شوی دی. د اسلام راتلو په نورو ټولو مذاهبو باندې سیوری خپور کړ. هغه وخت چې کوم ادیان دود وو ـــــ بت پرستي، یهودیت، عیسویت، ټول د خپلو پیروانو په سترګو کې داسې بې وزنه شوو چې د هغوی ډېر لوی

اکثریت د خپلو نیکونو دین پرېښود او په اسلام کې داخل شول. په اسیا او افریقا کې هغه هېوادونه چې نن ورځ اسلامي هېوادونه بلل کېږي، هغه ټول د قرآن د نازلېدو په وخت کې د نامسلمانو قومونو سیمې وې. خو د اسلام برتر فکر دا قومونه داسې متاثر کړل چې هغوی ټولو خپلو مذهب پرېښود او د اسلام سیوري ته یې پناه راوړه.

د اسلام همدا برتري په اوسنۍ زمانه کې په واقعیت بدله نه شوه. د دې ساده وجه دا ده چې د دې هدف لپاره هېڅ کوشش نه دی شوی. زمونږ تحریکونه تر ډېره له نورو سره په سیاسي هنګامو کې بوخت وو او په نورو باندې یې د اسلام د فکري غلبې جد و جهد ونه کړ. دا جد و جهد که همدا نن پیل شي، نو له همدا نن ورځې نه به د اسلام په تاریخ کې یو نوی باب پرانیستل شي.

یو شخص د ځانځه لپاره جومات روان شو. په لاره کې یې له چاسره خبره تاو شوه او له هغه سره په جنګ واوښت، تر دې چې ځونځ ورنه تېر شو. د اوسنۍ زمانې د مسلمانو اصلاح غوښتونکو مثال هم همداسې دی. هغوی باید د اسلام د مثبت دعوت لپاره راپورته شوي وای. خو دوی له ځینو سیاسي شکایتونو نه متاثره شول او له خلکو سره په قلمي او ژبنۍ جګړه کې ښکېل شوو. په همدوی کې ځینې داسې هم وو چې اسلام ته یې نوې تشریح ورکړه او سیاسي غوغابازي یې کټ مټ د اسلام مطابق وګڼله. اوس هر یو د سیاست په کاروبار کې مشغول دی. د دین له مثبت پیغام سره د راپورته کېدو فرصت له یوه سره هم نشته.

قرباني څه ده؟

د قرباني حقيقت دا دی چې څه چې تاسره دي، هغه ورکړئ، تر څو هغه څه چې له تاسې ماسوا دي، هغه ترلاسه کړئ. قرباني د دې حقيقت سبق دی چې که تاسې يو څه لاسته راوړل غواړئ، نو د بايللو حوصله در کې پيدا کړئ. که تاسې ژوند غواړئ، نو له مرګ سره د مخامخ کېدو لپاره تيار شئ. قرباني بې روحه رسم نه دی، قرباني ژوندی حقيقت دی چې له ژوند سره هماغسې ژور تعلق لري لکه د فطرت ابدي قوانين چې زموږ له کاينات سره ژور تعلق لري. قرباني د کار پای نه دی، د کار پيل دی. کله يو کوچنی شی هم لوی شی وي، ځکه دا کوچنی شی د يوه لوی شي سمبول ګرځېدلی وي. قرباني هم همداسې درواخلئ. قرباني په ظاهر کې د خدای په نوم يو معمولي څاروی وړاندې کول دي. خو په اصل کې دا يو ستر شی دی، ځکه د يوه ستر شي سمبول دی، نه مازې يو لنډمهالی غوندې بې روحه او بې معنا دود. د څاروي قرباني د بنده له لوري د ارادې سمبول دی، دا اراده چې بنده به خپل هر څه ان خپل ځان هم د لوړ مقصد لپاره قربان کړي.

يو معمولي څيز څنګه د يوه لوی شي سمبول ګرځي، د دې خبرې د وضاحت لپاره به زه له نيږدې تاريخ نه يو مثال درکړم. د نومبر ۱۹۶۲ پېښه ده. د هندوستان په ختيځه پوله باندې د ګاونډي ځواک د تجاوز له امله ننګوونکی خطر راپيدا شو. په ټول هېواد کې د وېرې فضا خوره وه. په دې وخت کې چې د قوم له لوري کوم غبرګون وښودل شو، په هغو کې يوه دا پېښه هم وه چې د احمد اباد ۲۵زره ځوانانو په ګډه دا هوډ وکړ چې دوی به د هېواد د ساتلو لپاره جنګېږي او د هېواد په خلاف د بهرني يرغل دفاع

به کوي، ان که په دې لاره کې خپل سر هم وخوري. له دې پرېکړې وروسته هر تن له خپله ځانه یوه، یوه پیسه واچوله او ۲۵ زره پیسې یې جمع کړې. بیا یې دغه پیسې د هغه وخت وزیر اعظم پنډت جواهر لال نهرو ته ورکړې. او هندوستاني وزیر اعظم ته یې وویل چې دا ۲۵زره پیسې زموږ ۲۵زره ځوانانو له لوري د خپل ځان د وقف کولو (to give ourselves to you) سمبول دي. دې ځوانانو په ظاهر کې یوازې یوه پیسه ورکړې وه چې په عامو حالاتو کې یې هېڅ ارزښت نشته. خو د دوی پیسې ځکه دومره ارزښت ومونده چې د یوه ډېر ستر حقیقت سمبول و. دا ۲۵زره پیسې د ۲۵زره سرونو استازې وې. د پیسې په صورت کې ګواکې دوی خپل سرونه د هېواد لپاره په ورغوي کې ایښي وو. دوی په سمبولیک ډول خپله یوه پیسه قرباني کړې وه او په حقیقت کې یې د خپل ژوند د قرباني اراده کړې وه. همدارنګه د ځاروي قرباني هم په اصل کې د یوه هوډ سمبول دی، د دې هوډ چې بنده به خپل هر څه ان خپل ځان هم د لوړ الهي مقصد لپاره قرباني کړي.

دا دنیا خدای په همدې طرز هستولې ده چې څوک دلته خپل ځان فنا کړي، هماغه یې له دې دنیا نه لاسته راوړي. قرباني د همدې خدایي قانون د تداعي لپاره کلنی عمل دی چې زموږ په ورځني ژوند کې شامل کړای شوی. په قرباني کې بنده ځاروی د خدای په نوم ذبحه کوي، بیا یې غوښه پخپله خوري او په نورو یې خوري. د خدای له راکړې رزق نه خوړل د بنده ورځنی اړتیا ده. هېڅ بنده بې خوړو ژوند نه شي کولی. همدغه د عام ضرورت شی یوه ورځ خاص د خدای په نوم قرباني کېږي او په دې ډول دغه عمل موږ ته د یوه مهم سبق د راکولو وسیله ګرځول شوی دی. قرباني ګواکې د دې خبرې سمبول دی چې بنده د هغې بیې

پرې کولو ته تیار دی چې د خدای په ځمکه کې یې د یوې رښتینې بریا د ترلاسي لپاره باید پرې کړي.

دا قرباني د دنیا له عمومي نظام نه جلا څه نه دی، بلکې همدا د فطرت نړیوال قانون دی. په یوه مثال کې ځان ورباندې وپوهوئ. که د ونې تخم په یخچال کې خوندي کړو، نو دا به د تل لپاره د تخم په شکل کې پروت وي. خو کله چې همدا تخم په خاوره کې خښ شي، نو یوه حیرانوونکې پېښه ترې بودېږي. اوس له هغه معمولي تخم نه داسې ونه راوځي چې نور بې شمېره تخمونه پیدا کوي او پرلپسې یې پیدا کوي. دغه ونه له خپل ښېرازه وجود سره د مځکې لپاره داسې ښکلا وګرځي چې په لیدو یې د خلکو سترګې یخېږي او ډول، ډول مختلفې ګټې ورنه ترلاسه کېږي. د یخچال په تخم او په خاوره کې د خښ شوي تخم په منځ کې د دې فرق وجه څه ده؟ د دې وجه هماغه ده چې قرباني ورته ویل کېږي. په خاوره کې تخم خپل ځان فنا کړ. د همدې لپاره په مځکه کې په یوه لویه ونه بدل شو. خو د یخچال تخم خپل ځان نه دی کړی، همدا ده چې بې ارزښته پاتې شو ـــــــ تخم چې خپل ځان فنا کړي، په ونه بدلېږي. ونه چې خپل بهترین حاصل له لاسه ورکړي، بیا په دې توانېږي چې په څانګو یې ګلونه وغوړېږي. ګل خپل ښکلی وجود فنا کوي، بیا دا ممکن کېږي چې له دننه یې یوه ګرانبیه مېوه راووځي. مېوه د خپل وجود ختمولو ته راضي کېږي بیا داسې کېږي چې د انسان په غوښه او وینه بدل شي چې بیا همدا انسان مځکه ابادوي او د فضا واټنونه لنډوي.

په دنیا کې د انسان لپاره د بریا پراخه امکانات ایښودل شوي دي، د هغو ټولو زینه یوازې یوه ده او هغه قرباني ده. په علم کې کمال پیدا

کول، په تجارت کې لوړ مقام ته رسېدل، په سیاست کې د لوړ منصب حاصلول، د اخلاقو او انسانیت له پلوه د ارتقا درجات لنډول، یوه کورنۍ یا قوم راهسکول، ټول د قرباني له لارې حاصلېږي، د دې دنیا خالق دنیا داسې پنځولې ده چې دلته هېڅ ډول کامیابي د قربانۍ تر حده له کوششونو پرته نه حاصلېږي. که یو شخص غواړي چې په لویو، لویو خبرو یا مازې په اخوا دېخوا سرسري کارونو لوی پرمختګ حاصل کړي، نو دا یوه داسې خوشخیالي ده چې د خدای په دې دنیا کې هېڅ کله په واقعیت نه بدلېږي.

نو بیا په داسې دنیا کې دا څنګه ممکنه ده چې خدای دې بې له قربانیو خوشاله شي. خدای په دنیا کې د هر شي د ترلاسي یا نه ترلاسي اصول ټاکلی دی او په دې ډول یې ګواکې دا هم ښودلې ده چې د انسان لپاره خدای ته د رسېدو یا نه رسېدو اصول څه دی. هغه یوازې قرباني ده. په دنیا کې د یوه شي د ترلاسي شرط په اصل کې د خدای د موندلو شرط هم دی. بنده که د خپل ځان خوشالي غواړي نو د خپل رب لپاره د ځان قرباني ورکوي. خدای هماغه بنده ته هر څه ورکوي چې خدای ته یې هر څه ورکړي وي. د قرباني له بیې پرې کولو پرته د خدای په هست کړي نظام کې هېڅ څه هم نه شي ترلاسه کېدی.

نو هغه اصول چې په دنیا کې د کامیابي لپاره دی، هماغه اصول په اخرت کې هم د کامیابي لپاره دی. او دا چې د اخرت دنیا له اوسنۍ دنیا نه ډېره قیمتي ده، نو ځکه د اخرت په خاطر قرباني هم هغه مطلوبه ده چې تر ټولو لویه قرباني وي. د اسلام په نزد زمونږ ژوند په دوو حصو وېشل شوی دی. یوه وړه، ډېره وړه حصه یې اوسنۍ دنیا ده. او لویه، ډېره لویه

او تلپاتې حصه يې هغه ده چې له مرګ وروسته به زمور مخې ته راځي. د راتلونکې دنيا د بريا ټول دار و مدار هم، د اوسنۍ دنيا په څېر په قرباني باندې دی. راتلونکې دنيا ګواکې د بهترينو چانې شويو انسانانو کالوني ده. هغه خلک چې نن ورځ په خپل فکر او عمل کې بهترين انسانان ثابت شي، همدوی به په بله دنيا کې د جنت په کالونيو کې ځای په ځای کېږي او هغه خلک چې نن د اعلی انسانيت ثبوت ورنه کړي، هغوی به د جهنم له عذاب نه ډک ماحول ته وتمبول شي.

ښه انسان کېدل څه دي؟ ښه انسان کېدل دا دي چې بنده په خدايي سطحه ژوند وکړي. په ځان کې خدايي اوصاف پيدا کړي. د دې مقصد لپاره به بنده له شيطان سره مقابله کوي. خپل ټول ژوند به د شيطان له اثراتو څخه پاکوي. دا د دوامداره قربانيو لاره ده. هماغه شخص د خدای په جنتي دنيا کې د ځان لپاره ځای مومي چې د دغې قربانۍ حوصله په ځان کې پيدا کړي. د هغه لپاره اړينه ده چې بنده خپل ټول پوچ خيالات له خپله ذهن وباسي او يوازې صحيح او په ځای خيالاتو ته په ذهن کې ځای ورکړي ان که دا فکري عمليات د ده لپاره د خپلو محبوبو تصوراتو د ذبحه کولو په معنا هم ولې نه وي. د هغه لپاره اړينه ده چې انسان خپل کردار د حق په بنسټونو ودروي ان که په دې خاطر د دنيوي ګټو او مصلحتونو ځپلو ته هم مجبور شي. د هغه لپاره اړينه ده چې بنده د ربښتينولۍ په وړاندې سر ټيټ کړي ان که په دې بيه کې د لويي له ګدۍ نه لاس اخيستو ته هم اړ شي. د هغه لپاره اړينه ده چې بنده حقيقت‌پالنه او اصول‌پرستي د خپل ژوند تګلاره وګرځوي ان که په دې لاره کې په دنيا کې خپل ځای هم له لاسه ورکړي.

په هره زمانه کې داسې کېږي چې په دنیا کې ځینې طریقې دود شي. د اړیکو ځینې بنیادونه رامنځته شي، ځینې محبوب فکرونه د بنده په ذهن کې ځالې وکړي، انسان د همدې شیانو په مټ ژوند تېروي، د فکر او عمل له یوې حلقې سره په پیوستون باندې بنده ناز کوي چې ما له بهترینې حلقې سره خپل برخلیک ترلې دی. نو اوس چې کله د ده په وړاندې د حق دعوت راځي، نو ده ته داسې محسوسېږي چې دغه دعوت د ده مصلحتونه له خطر سره مخ کوي. د ده تعلقات شلول غواړي. د ده هغه فکرونه بې ارزښته ثابتوي چې د ځان لپاره یې د هغو په اسره د یوه ښکلي مستقبل خوب لیدلی و. په دې لاملونو د حق دعوت قبلول د ده لپاره د یوې سترې قرباني عمل وګرځي. او ټول ژوند یې د حق په قربانګاه کې د قرباني کولو هم معنا شي. مګر همدا هغه قرباني ده چې بنده د خدای په سترګو کې ګرانوي. همدا هغه قرباني ده چې بنده ته د ابدي جنتونو دروازې وازوي. همدا د خپل وجود قرباني د جنت یوازنۍ بیه ده. بې له دې قرباني چاته د خدای جنت نه ورکول کېږي.

اســـــلامـــــي ژونـــــد

د سيرت په رڼا کې

مال د دين او دنيا لپاره مرستندوی

بيهقي د حضرت اسلم په حواله راوړي دي چې عمر رضي الله عنه له ابوعبيده بن جراح نه په کوم دولتي کار کې کټه واخيسته او بيا يې هغه ته زر ديناره ور واستول. ابوعبيده رضي الله عنه دغه پيسې بېرته ور ولېږلې او ويې ويل: اې ابن خطابه! دا کار ما ستا لپاره نه و کړی، ما د خدای لپاره کړی و. نو د دې کار لپاره به زه هېڅ هم وانه‌خلم. عمر رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ په يوه کار پسې ولېږلو او مونږ ته يې ډالۍ راکړې، نو مونږ يې اخيستنه بده وګڼله. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ښه ده چې وا يې خلئ:

فاقبلها ايها الرجل فاستعن بها على دينک و دنياک

ژباړه: نو وا سړيه! دا قبوله کړه او د خپل دين او دنيا په برخه کې کار ورنه واخله.

خپلو ته په خیرات ورکولو کې ډېر ثواب

د حضرت ابوهریرة رض په یوه روایت کې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې د محمد ص امته! په هغه ذات قسم چې زه یې په حق را استولی یم، له هغه بنده نه به الله هېڅ صدقه قبوله نه کړي چې اړمن یې خپلوان یې او دی یې د هغوی په ځای نورو ته ورکړي (**یاامة محمد والذی بعثنی بالحق لا یقبل الله صدقةً من رجل وله قرابة محتاجون الی صلته ویصرفها الی غیرهم**، طبرانی) په یوه بل روایت کې دا الفاظ دي چې په هغه ذات قسم چې زما روح یې په واک کې دی، د قیامت په ورځ به الله د هغوی طرف ته ور ونه ګوري.

د محنت کټه د مؤمن لپاره ډېره غوره ده

انس بن مالک رضي الله عنه وایي یو مسلمان انصاري نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی او سوال یې وکړ. رسول الله ص وپوښتل: په کور کې دې کوم څه شته؟ هغه وویل چې له ما سره یو معمولي څادر دی چې زه یې په ځان اچوم. یوه پیاله ده چې زه په کې اوبه څښنم. رسول الله ص پیاله ورباندې راوغوښته. بیا یې حاضرو کسانو ته وفرمایل چې په دې پیالې نرخ کېږدئ. یوه کس یو درهم نرخ په کښنود. بل لږ ور زیات کړ او دوه درهمه یې وویل او پیاله یې واخیسته. رسول الله دا دواړه درهمه انصاري ته ورکړل او ویې ویل: په یوه درهم کورنۍ ته خواړه واخله او په یوه

درهم تبر واخله او ماته يې راوړه. هغه تبر راوړ. رسول الله په خپل لاس تبر ته لاستی واچوه او ويې فرمايل:

اذهب فاحتطب ولا ادنيک خمسة عشر يوما

ژباړه: لاړ شه، له ځنګله نه لرګي راووهه او خرڅ يې کړه، او تر پنځلسو ورځو پورې زما څنګ ته مه راځه.

هغه انصاري په خپل کار لګيا شو. له ځنګله نه به يې لرګي راوهل او خرڅول. دوه اوونۍ وروسته نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی او د خپل عايد حساب يې ورته وويل. په دې موده کې ده ته د خپلو لګښتونو له پوره کولو سربېره لس درهمه ور بچت شوي وو. رسول الله خوشاله شو او ويې فرمايل:

هذا خير لک من ان تجئ المسئلة نكتة فی وجهک يوم القيامة (ابو داؤد، ابن ماجه)

ژباړه: دا ستا لپاره له دې نه غوره ده چې سوال وکړې او د قيامت په ورځ دې په څېره باندې د يوه داغ په شکل راڅرګند شي.

فضول خرچي د بهتر لګښت په ځای کېږي

ما رأيت اسرافاً الا و بجانبه حق مضيع

ژباړه: ما چې هر کله اسراف ليدلی دی نو ليدلي دي مې چې په خوا کې يې يو حق ضايع شوی و. يانې هر کله چې بنده په

يوه بې ګټې ځای کې پيسې بربادوي نو د دې بيه هميشه دا وي چې په يوه ضروري ځای کې به پيسې نه وي لګول شوې.

د مال په ځای په اللّه بروسه

سلمه بن سعيد او عبدالله بن عمر رض نه وايت دی. د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې له عراق نه مال راغی. حضرت عمر يې په وېش لګيا شو. داسې ښکارېدله چې دی به ټول مال ووېشي او ختم به يې کړي. عبدالرحمن بن عوف ودرېده او ويې ويل:

يا امير المؤمنين لو ابقيت من هذا المال لعدد ان حضر او نائبة ان نزلت (حلية الاولياء)

ژباړه: اې اميرالمؤمنينه! له دې مال نه به دې يو څه پرې ايښې و. داسې نه وي چې له دښمن سره جګړه راشي يا کوم ناڅاپي افت راشي.

عمر رضي الله عنه په ځواب کې وويل:

مالک، قاتلک الله، نطق بها علی لسانک شیطان و الله لا اعصین الله الیوم لغد

ژباړه: په تاسې څه شوي، خدای دې ووهه، دا خبره شيطان ستا په ژبه راوستې ده. په خدای قسم، زه به د سبا ورځې له اندېښنې نه نن ورځ د الله نافرماني ونه کړم.

له دنیاجوړونې نه ډېر فکر د اخرت جوړونې

په مدینه کې یوه مسلمان خپل کور جوړ کړ. ده یې په دېوالونو خټه وهله. په دې وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې ځایه تېرېده. رسول الله وپوښتل: دا څه کوې؟ هغه ځواب ورکړ: **شیئا نطین** (خټه ورکوو.) رسول الله وفرمایل: **الامر اسرع من ذلک**(د پرېکړې (قیامت) ګړۍ له دې نه ډېره نیږدې ده.)

په شهادت هم قرض نه بښل کېږي

ابو قتادة بن ربعي رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وعظ ته ودرېده او ویې فرمایل چې د الله په لاره کې جهاد او په الله ایمان له ټولو اعمالو نه ډېر افضل دي. یو شخص پاڅېده او ویې ویل: اې د الله رسوله! تاسې څه وایئ، که زه د الله په لاره کې ووژل شم نو زما خطاوې به وبښل شي؟ رسول الله وفرمایل: هو، که ته د الله په لاره کې ووژل شې په دې حال چې صبر کوونکی یې، نیت دې د الهي رضا حاصلول و، له نورو وړاندې کېدونکی وې، په شا تلونکی نه وې. بیا یې لږ ځنډ وروسته وفرمایل: «تا څه ویلي و؟» هغه وویل: تاسې څه فرمایئ که زه د الله په لاره کې ووژل شم نو زما خطاوې به لرې شي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو که ته صبر کوونکی وې، ستا نیت د الهي رضا حاصلول و، له نورو مخکې کېدونکی وې، شاتګ کوونکی نه وې، مګر دا چې په تا په قرض وي، ځکه چې جبریل ماته همداسې راښودلي دي. (**مسلم**)

انفاق خپل ځان له اور نه د ژغورلو لپاره

عدي بن حاتم وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوربدلي دي: **اتقوا النار ولو بشق تمرة فمن لم يجد فبكلمة طيبة**، له اور نه ځان وژغورئ ان که د کجورې په يوه ټوټه هم وي، او څوک چې دا هم ونه مومي، نو په يوه ښه خبره دې د دوزخ له اور ځان خلاص کړي.

مسلمان ته بل مسلمان تر درهمو او دينارو هم ډېر محبوب وي

طبراني له حضرت عبدالله بن عمر رض نه راوړي دي، هغه وفرمايل:

اتى علينا زمان و ما يرى احدمنا انه احق بالدينار و الدرهم من اخيه المسلم. و انا في زمان الدينار و الدرهم احب الينا اخينا المسلم.

ژباړه: په موږ داسې زمانه تېره شوې ده چې په موږ کې داسې څوک نه و چې د خپل ورور په مقابل کې به يې خپل ځان د درهمو او دينارو ډېر مستحق ليده. او اوس زه په داسې زمانه کې يم چې درهم او دينار زموږ لپاره له خپل ورور نه ډېر ګران شوي دي.

هغه وخت انفاق چې اسلام د بې کسي په حالت کې وي

هشام بن عروه له خپله پلاره روايت کوي چې کله ابوبکر رض ايمان راوړ نو څلوېښت زره درهم ورسره وو. هغه دا ټول مال د اسلام په لاره کې ولګاوه. د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه

وسلم وفرمايل: د هېڅ کس مال ماته دومره ګټه نه ده رسولې، څومره چې د ابوبکر رض مال رارسولې. (قرة العنين في تفضيل الشيخين)

د پرېماني په حالت کې هم په احتياط لګښت کول

عبدالله بن عمرو بن العاص رض وايي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د حضرت سعد رض په خوا کې تېر شو. هغه په لوی لوښي کې اوبه اخيستې وې او ډېر په بې پروايي يې اودس کاوه. رسول الله وفرمايل: ما هذا السرف يا سعد (وا سعده! دا څه بې ځايه لګښت دی.) حضرت سعد رض وويل: ايا په اوداسه کې هم بې ځايه لګښت کېږي. رسول الله وفرمايل:

نعم وان كنت على نهر جار (احمد)

ژباړه: هو، ان که د روان سيند په غاړه هم اوسې.

د حقونو په ادا کولو کې بېړه

عبدالله بن عمر رض وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

اعطوا الاجير اجره قبل ان يجف عرقه (ابن ماجه)

ژباړه: مزدور ته يې خپله مزدوري د هغه له خولو وچېدو مخکې ورکړئ.

نصيحت له مال نه ډېر قيمتي دی

عن ابن عمير الطوری ابان ابن سليم قال: كلمة حكمة لک من اخيک خير لک من مال يعطيک لان المال يطغيک و الكلمة تهديک (جامع بيان العلم، جزء اول، صفحه ۵۳)

ژباړه: ستا ورور تاته د حکمت يوه خبره وکړي، دا له دې نه بهتره ده چې هغه مال درکړي. ځکه مال تا سرکښه کوي او د حکمت خبره تاته لاره دربنيي.

د کسب له مخې څوک حقير کښل ناپوهي ده

د بدر په غزا کې د مشرکينو د پوځ مشري د ابوجهل په لاس کې وه. د انصارو دوه ځوانانو معوذ بن عفراء او معاذ بن عفراء خپلو کې فيصله وکړه چې دوی به ابوجهل وژني. دواړه ورونه د مشرکينو په صفونو کې ورننوتل او د خپل سر په خطر يې ابوجهل وواژه. عبدالله بن مسعود وايي چې په اخر وخت کې چې کله ابوجهل پوه شو چې د ده قتل کوونکي د مدينې دوه وځړي دي، نو ابوجهل وويل:

لو غير اكار قتلتنی (بخاري و مسلم)

ژباړه: هی کاش! له کروندګرو پرته چا وژلی وای.

د مدينې د خلکو اقتصادي سرچينه کرنه او دهقاني وه. دلته ابوجهل کروندګرو ته په سپکه سترګه وکتل.

په اقتدار او شتمني بغض او دښمني پيدا کېږي

مسور بن مخرمه وايي چې عمر فاروق رضي الله عنه ته له قادسيې نه د غنيمت مال راغی، عمر رض مال ته کتل، په يوه خوا او بله خوا يې اړاوه او ژړل يې. عبدالرحمن بن عوف رض وويل: اې اميرالمؤمنينه! تاسې ولې ژاړئ؟ الله فتحه در کړې ده. په خپلو دښمنانو يې غلبه درکړې ده. د هغوی مالونه يې ستاسې په واک کې درکړي او ستاسې سترګې يې يخې کړې. عمر رض وفرمايل:

سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا تفتح الدنيا على احد الا القى الله عزوجل بينهم العداوة والبغضاء الى يوم القيامة، وانا اشفق من ذلک (احمد، بيهقي، بزار)

ژباړه: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي چې هر کله په يو چا د دنيا دروازې خلاصې شي، نو الله تر قيامته پورې په هغوی کې کرکه او دښمني اچوي، او زه له همدې نه ډاريږم.

ښه اقتصاد لا سخت ازمايښت دی

ابو يعلى او بزار له سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه نه روايت کړی دی، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

لانا الفتنة السراء اخوف عليكم من فتنة الضراء انكم ابتليتم لفتنة الضراء فصبرتم وان الدنيا حلوة خضرة

ژباړه: زه ستاسې په هکله د تنګي او غريبې له فتنې نه د اساني او پراخي له فتنې نه ډېر وېريږم. تاسې د سختي په فتنه کې مبتلا شوئ او صبر مو وکړ. خو دا دنيا ډېره خوږه او ښېرازه ده.

طبراني د عوف بن مالک په حواله دا الفاظ راوړي دي:

تصب علیکم الدنیا صبا حتی لا یزیغکم بعدی ان زغتم الاهی.

ژباړه: دنیا به په تاسې راوورېږي. تر دې چې که له ما وروسته په تاسې کې کوږوالی راته، نو فقط د همدې دنیا له امله به راځي.

درې شیان په مسلمان حرام دي

کل المسلم علی المسلم حرام عرضه و ماله و دمه (حدیث)

ژباړه: په هر مسلمان د بل مسلمان ابرو، د هغه مال او د هغه وینه حرامه ده.

د شکایت په وخت په انصاف درېدل

قال عمر: ما عاقبت من عصی الله فیک بمثل ان تطیع الله فیه (تفسیر ابن کثیر جلد ثالث، صفحه ۲۶۴)

ژباړه: عمر رضي الله عنه وویل: څوک چې ستاسې په هکله د الله نافرماني وکړي، نو تاسې د هغه په هکله د الله اطاعت وکړئ، همدا یې تر ټوله غوره بدله ده.

بې وېرې انسان ایماني جذبات نه شي درک کولی

بزار له ابو سلمه رض او ابو هریرة رض نه روایت کړی دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلان وکړ چې زه یو لښکر لېږدول غواړم، تاسې یې د لګښتونو لپاره صدقه راکړئ. عبدالرحمن بن عوف رض تاجر سړی و، هغه وویل اې د خدای رسوله! له ماسره څلور زره دي، دوه زره یې زما د کورنۍ لپاره او

دوه زره زه خپل رب ته قرض ورکوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

بارک الله لک فیما اعطیت وبارک لک فیما امسکت

ژباړه: الله دې هغه برخه درته برکتي کړي چې را دې کړه او په هغه برخه کې دې برکت واچوي چې و دې سپموله.

ابو عقیل انصاري رض یو غریب سړی و. هغه ټوله شپه یوه باغوان ته په خپله ملا اوبه راوړې او د هغه باغ یې اوبه کړ. په مزدوري کې هغه دوه صاع (اوه کیلو) کجورې ورکړې. هغه یوه صاع کجورې خپلې کورنۍ ته پرېښودې او یوه صاع یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کې وړاندې کړې. رسول الله هغه ته هم د برکت هماغه دعا وکړه چې عبدالرحمن بن عوف ته یې کړې وه.

خو د مدینې منافقینو په دواړو طنز او پیغورونه شروع کړل. د عبدالرحمن بن عوف رض په باره کې یې وویل چې مازې د ځان ښودنې لپاره یې صدقه ورکړه (**ماأعطى الا رياء**) او د ابوعقیل په باره کې یې بیا وویل: ایا الله او رسول یې له دې صاع نه هم مستغني نه وو؟

له انسان نه هېڅ نه غوښتل

ثوبان رضي الله عنه وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **من یکفل لی ان لا یسئال الناس شیئا اتکفل له بالجنة** (څوک ماته د دې خبرې

ډاډ راکوي چې له خلکو به څه نه غواړي، زه به هغه ته د جنت ډاډ ورکړم.) حضرت ثوبان رض وویل: زه. همدا وه چې له دې وروسته به هغه له هیڅا نه هم د کوم شي سوال نه کاوه. (احمد، نسائی، ابن ماجه، ابو داؤد)

د کیفیاتو لپاره حالات ضروري دي

ترمذي له ابو امامه رض نه روایت کړی دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماته د خدای یوه پرښته راغله او ویې ویل: اې محمده! الله په تاسې سلام ویلی دی او فرمایلي یې دي چې که ته غواړې نو د مکې غرونه به درته په سرو زرو بدل کړي. رسول الله خپل سر مبارک د اسمان لور ته پورته کړ او ویې ویل:

لا یارب، ولکن اشبع یوما و اجوع یوما. فاذا جعت تضرعت الیک و ذکرتک و اذا شبعت شکرتک و حمدتک.

ژباړه: اې زما ربه، نه غواړم. بلکې زما دا خوښېږي چې یوه ورځ مړ اوسم او یوه ورځ لوږه تېره کړم. کله چې وږی شم، نو تاته زاری وکړم او له تا یې وغواړم او کله چې مړ شم نو ستا شکر وکړ او ستا ستاینه وکړم.

د زړه سختېدل تر ټولو لویه سزا

قال مالک بن دینار ما ضرب عبد بعقوبة اعظم من قسوة القلب (روم ۸)

ژباړه: مالک بن دینار وویل: د زړه له سختوالي نه ډېره سخته سزا چاته نه ده ورکول شوې.

د خدای په لاره کې ځان او مال نه لګول هلاکت دی

ابوعمران رضي الله عنه وایي، موږ د قسطنطنیې په غزا کې وو. زموږ د لښکر مشر عبدالرحمن بن خالد بن ولید و. د رومیانو له لوري یو لوی لښکر راووت. زموږ له لوري یو مهاجر ور ووت او په رومیانو یې برید وکړ او د هغوی صفونه یې ور ړنګ کړل. د دې په لیدو ځینو وویل: **القی بیده الی التهلکة** (دې سړي خو په خپل لاس ځان په هلاکت کې وغورځاوه.) زموږ په لښکر کې ابو ایوب انصاري رضي الله عنه هم و. هغه وویل: **نحن اعلم بهذه الآیة انما نزلت فینا** (موږ انصار په دې آیت ډېر ښه پوهیږو، دا زموږ په باره کې نازل شوی و.) بیا یې وویل چې کله الله د خپل پیغمبر مرسته وکړه او اسلام غالب شو نو موږ په خپلو کې وویل: راځئ اوس په خپلو جایدادونو کې واوسو او خپل مال ته توجه وکړو. په دې وخت کې الله دا آیت نازل کړ: **وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ**. (او د الله په لار کې لګښت وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه غورځوئ.)

فالالقاء بایدینا الی التهلکة ان نقیم فی اموالنا و نصلحها و ندع الجهاد (تفسیر ابن کثیر جلد اول)

ژباړه: نو په خپل لاس ځان په هلاکت کې غورځول دا دي چې مور له خپلو مالونو سره پاتې شو او د هغو په سمولو لګیا شو او جهاد پریږدو.

د خفګان په وخت کې د چا په بربادي پسې متې مه رانغاړئ

عن اسلم عن عمر رض قال لا یکن حُبک کلفا ولا بُغضکَ تلفا. فقلتُ کیف ذالک. قال اذا احببت کلِفت کلف الصبّی و اذا ابغضت احببت لصاحبک التلفَ (الادب المفرد، صفحه ۱۹۱)

ژباړه: عمر رضي الله عنه وفرمایل: له یو چا سره په مینه کې لېونتوب ته مه رسېږئ او د دښمني په وخت کې هغه ته زیان مه رسوئ. راوي وایي چې ما وپوښتل، هغه څنګه؟ عمر رض وویل: داسې چې کله مینه ورسره کوې نو د ماشومانو په څېر مینه ورسره کوې او چې کله ورنه خفه شې، نو د هغه تباهي او بربادي غواړې.

د ځان او مال له قربانې پرته جنت نشته

بشیر بن خصاصیه رضي الله عنه وایي، زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بیعت لپاره راغلم. ما وپوښتل: اې د خدای رسوله! تاسې رانه په څه شي بیعت اخلئ؟ رسول الله خپل لاس را وړاندې کړ او ویې فرمایل: شاهدي ورکړه چې بې له الله نه بل معبود نشته، او محمد د هغه بنده او رسول دی. پنځه وخته لمونځونه په خپل وخت ترسره کړه. زکات ورکړه. د رمضان روژې ونیسه، د بیت الله حج وکړه، د الله په لاره کې جهاد وکړه. ما وویل: اې د

خدای رسوله، زه به دا ټول وکړم. خو په دې کې د دوو وس په ما کې نشته. یو زکات، په خدای قسم له ماسره یوازې دوه اوښې دي، د هغو شیدې زما د کورنۍ خوراک دي او همدا یې د سورلۍ او بار وړلو وسیله دي. بل د جهاد، زه یو کمزوری سړی یم. خلک وایي چې چا له جهاد نه مخ وکړځاوه، هغه د الله په غضب مبتلا شو. زما اندېښنه ده چې که په جنګ کې ګډون ته اړ شوم نو وېره به راباندې غالبه شي او وبه تښتم، او د الله د غضب مستحق به شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل لاس کش کړ او ویې ویل:

یابشیر لاصدقة ولاجهاد فبم اذن تدخل الجنة (کنز العمال)

ژباړه: اې بشیره، نه صدقه او نه جهاد، نو بیا به ته جنت ته په څه شي داخل شې؟

د سوال او نه سوال فرق

مالک له عطاء بن یسار نه روایت کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رضي الله عنه ته یوه ډالۍ واستوله. عمر رضي الله عنه هغه بېرته ورکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تا ولې بېرته راوکړځوله؟ هغه وویل: اې د خدای رسوله! ایا تاسې مور ته نه دي رابنودلي چې له مور نه د هر یوه بنسټګنه په دې کې ده چې له چا نه دې هېڅ هم نه اخلي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **انما ذلک عن المسألة، فاما ما کان من غیر مسألة فانما هو رزق یرزقکه الله.**

ژباړه: هغه خبره ما د سوال په باره کې کړې وه، خو یو شی چې له سوال کولو پرته درکول شي نو هغه رزق دی چې خدای درکړی دی.

له شهرت نه تښتېدل

سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه به په راوروسته زمانه کې اوزې څرولې. ده له مدینې نه لرې په یوه میدان کې خپلې اوزې څرولې چې یوه ورځ د ده زوی عمرو بن سعد سپور ورته راغی او ویې ویل آیا تاسې دا خوښ کړي دي چې له اوزو او پسونو سره د کوچیانو ژوند وکړئ. حال دا چې خلک په مدینه کې د حکومت او سیاست په چارو بحثونه کوي. حضرت سعد خپل زوی په سینه ووهه او ویې ویل: غلی شه. ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې الله خپل هغه بنده خوښوي چې وپرېدونکی وي، بې نیازه وي او له خلکو نه پټ وي (**اسکت اني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان الله یحب العبد التقی الغنی الخفی، مسلم**)

علم نوم دی له اللَّه نه د وېرې

عن عون بن عبدالله قال قال عبدالله بن مسعود لیس العلم بکثرة الروایة انما العلم خشیة الله.

عبدالله بن مسعود وویل: علم د روایاتو ډېروالی نه دی، علم دا دی چې بنده له الله رب العالمین نه ووېرېږي.

پای